# د کلیو او ښارونو ترمنځ بیلتون ختمول

## د افغانستان د ښاري سیمو څیړنه، د کلیو اوښارونو تر منځ د غوره اړیکو د پیاوړتیا لپاره

دا بحث پاڼه د افغانستان د ښارونو او د ښاری سیمو تر منځه لوی اقتصادی، اجتماعي، محیطي او امنیتي خپل منځی اړیکو باندی رڼا اچوی. دا پاڼه بحث کوی چی ښاري کیدو پروسه باید په صحیح توګه وپیژندلی شي او نه باید مصنوعی دویال یعنی ښاري او کلیوالی کی تقسیم شي خصوصاً کله چی دی منطقولپاره د اوږونی لسیزی له امله (۲۰۱۵ – ۲۰۲۴) پالیسی او اینده پروګرامونه جوړیږی.

د ملړی مباحثه پاڼه – دویم سلسله، جنوری ۲۰۱۶

### د افغانستان ښارونه او ښاری سیمی

تر ډیر وخته پوری افغانستان ته د ښاري او یا کلیوالی په نظر کتل شوی دي. مګر دا مصنوعی دویال کتل د زمینی حقایقو د پیچیدګیو صحیح ترجمانی نه کی. د ښارونو او د کلیوالو سیمو خپل منځی اړیکی ډیری پراخه دي. د افغانستان د ښارونو د وضعیت پروګرام راپور دا وښودل چی د افغانستان د ښارونو، کلیوالو منطقو او ښاری سیمو په منځ کی ډیری قوی اړیکی شته. د افغانستان د ښارونو د وضعیت پروګرام راپور د ښارونو د لا زیاتی څیړنی او پوهنی، خصوصاً د کابل، هرات، مزار، کندهار او جلال اباد ښاری منطقو، او د افغانستان فضاي جوړښت پیژندلو وړاندیز کړی وو.[۱،۲]

د ښاری سیمو په باره کی د معلوماتو راغونډولو سره کولی شو چی ښاري سیمی اقتصاد، حکومتوالی او ښاری خدماتو ته پراختیا ورکړ – چی دا ټول د افغانستان د اوږون لسیزی (۲۰۱۵-۲۰۲۴) کی مهم رول لوبوي.


**"مونږ باید د ژوند کولو اوضاع او د خدماتو رسوله غوره کړو. ښاری کیدل باید په صحیح توګه وشی چی په کلیوالو او ښاري سیمو کی لوی توپیر لږ کړی شي**

**د ښاري سیمو د انکشاف لپاره د اداراتواو صندوقونو جوړول به د دی سیمو انکشافی پلانونو او مدیریت په منظمه بڼه مخکی ته بوځي**

**خپل باوري پیژندنه (۲۰۱۴)، ملی یووالی حکومت، د افغانستان حکومت، صفحه ۱۲**

### د هرات ښاری سیمه :

د لاندنی انځور د هرات ښار او د هرات ښاری سیمه خپل منځی اړیکی ښکارندوی دی. یوه مهمه پوښتنه دا ده چی څنګه کولی شو دا ښاری سیمه په ښه ډول منظمه کو چی د ښارونو اقتصاد، خدمات، او امنیت جوړ او پراخه کړی شی؟




[1]GoIRA (2015) The State of Afghan Cities 2015. GoIRA: Kabul. http://unhabitat.org/books/soac2015/

[2]UN-Habitat (2015) Afghan Cities for Life. Discussion Paper #6. http://unhabitat.org/afghan-cities-for-life-respecting-andprotecting-/the-environment-for-healthy-and-livable-cities

## د ښاري سیمې بیانول :

له ښاري سیمې نه مقصد هغه ځای دی کوم چې د ښار او کلیوالی سیمو په منځه یو شریکه پوله نلري خو اقتصادی ، اجتماعی او محیطی خپلمنځی اړیکی لري کوم چې یادشویو سیمو ته یو جلا ځی ورکوی.

د ښاري سیمو مفکوره یوه نوی مفکوره نه ده بلکه د۱۹۵۰ نه را پدیخوا ښارپوهانو،د اقتصاد پوهانو ، پلان چوړونکواو محلی او ملی اداراتوله دی مفکوری څخه گټه اخیستی، د ښار او د ښاری سیمو په جوړښت او اجتماعی او اقتصادی پرمختیا کی یی مهم رول لوبولوضمینه برابره کړی.

څنگه چې په اول چوکاټ کی لیدل کیږی، د هرات ښاری سیمه په اجتماعی ، اقتصادی ، اداری او اجرایی توگه یوه کړکیچنه سیمه ده. د هرات ښاری سیمه اندازتآ ۱.۴ میلیونه نفوس لری چې ۸۰۰،۰۰۰په ښاری پوله کی دننه او ۷۰۰،۰۰۰ د ښاری پولی نه بهر ژوند کوی . تر ۲۴۵ نه زیات کلی او کلیوالی انکشافی شوراگانی د زراعتی ځمکوپه اړخ کی ، ښاری پولو ته نژدی پراته دي.

مهم اقتصادی بنستونه لکه د هرات بین المللی هوای ډگر او دهرات صنعتی پارک د هرات له ښاری پولی نه بهر موقعیت لری. تقریبآ ۳۰ فیصده ځمکه د هرات د ښاری پولی په دواړو اړخونوکی د زراعت لپاره تر استعمال لاندی دی. د بی ځایه شویو کورنیو کمپ ( مسلخ) دښار نه بهر موقعیت لری چې ۱۷۰۰۰ نفوس پکی ژوند کوی او د اجتماعی ژوند د دوام په موخه د هرات له ښار سره راشه درشه لری

د انجیل ولسوالی چې د هرات ښار په جنوب کی موقعیت لری د یو بیلی ښاروالی درلودونکی ده سره له دی چې د هرات په شان آبادی او یو شان ښاری مقصد لری. سربیره پر دی د هرات او انجیل ښارونه ځینی مهمی ترانزیتی نقطی دی چې د افغانستان له غرب استقامت نه له ایران سره وصل کوی او د افغانستان لپاره مهم اقتصادی ارزښت لری

## ډ ښاري زونونومعلومول څه اهمیت لري ؟

سره له دی چې د افغانستان ښاری سیمی ډیری کړکیچنی او دلچسپه دی. ددی منظقو کړکیچنتوب نه په رسمی توگه او نه په معلوماتی توگه او نه په انکشافی توگه واضح شوی همدارنگه نه په محلی ، ملی او امنیتی پالیسیو کی واضح شوی. ده دی وجه داده چې په افغانستان کی په بشپړه توگه د ښاری سیمو ارقام نه را ټولیګی. د معلوماتو د کم والی په وجه په انکشافی پلانونو کی او د بودجی په جوړښت کی مشکلات بیداکیږی، بنستیز کم والی ، د خدماتو نا برابری او کم کیفیت والی، د داخلی صنعت کارانو په منځ کی د لږو منابعو لپاره مسابقه چې دا ټول په کلیو او ښارونو فشار اچوی چې بلاخره دا سیمی د ښاری اقتصاد په زیاتوالی کی مهمه برخه لری

## ولی په افغانستان کی باید په ښاري سیمو پانگه اچونه وشي؟

**اقتصادي موخه:** ښاري سیمو کی ډیر لوی ورتیاوی موجود دی که چیرته هم دا ورتیاوی سیمو ته غوره کړلی شو نو د ښاري پولی نه بهر زراعتی فصل به زیات شی، د کلیوالی سیمو اړیکی به له صنعتی او صادراتی مارکیټونو سره وده وکړی او د ښاروالیانو داخلی عایدات به زیات شی.


**د شي حکومتداري موخه:** مصنوعی بیلتون د کلیوالی او ښاري سیمو تر منځ د سیمی انکشاف ته ستونزی مخکی ته راوړی چی د بیکیفیته کار، یو کار دوه ځلی کول، د موجودو منابعو تر منځ د اعتبار نشتون، د ښاري عایداتو په ټولیدو کی ستونزی ، د ښار د انکشاف او دولت په کوششونوکی مشکل ایجادول ، د ځمکو غصب ، د بی کنترول ښار منځته راتگ، او د بی کنټرولە غیر منظم ښاری کیدل او غیر رسمی سیمو ته زیاتوالی ورکولو باعث گرزیدل.

**د اجتماعی او بشری حقوقو موخه:** د هغو بیځایه شویو پیژندنه چې په ښاري سیمو کی په کمپونو کی ژوند کوی ، د ښه بنسټ ایښودلو په منظور ددوی د کورونو شرعی حق او پناگاغوره کول، زراعتی لاسته راوړنه زیاتیږی چې د کوزنیو د خوراک رسونی سبب جوړیکی. د معتدل پرمختگ سبب کیږی کو چې کلیوالی سیمو نه د خلگو د ښارنو لور ته د مهاجرت مخنیوی کوی.

**د محیط موخه:** د ښاری سیمو منظم والی ددی باعث گرځی چې مونږ د خپلو طبعی سرچینو څخه مناسبه او درسته گټه واخلو، ښارونو او د ښاری سیمو په منځ کی د طبعی سرچینو عادلانه تقسیمات وشی، او د بیرته پاتی شویو جامد موادو څخه چې ښارونو ته نژدی تولیدیږی او په ښاری سیمو منغی اغیزی لری چې باید جامع گټه تری واخیستل شی.
د ښاری /فضایی پلانونو موخه : د ښاری پلانونو سمه عرضوونه کولای شی چې د خلگو د راتگ فشار ښارونو ته کم کړی. په پلانی توگه د ښارونو پراختیا او د ښاری منطقو سره مساوی پرمختگ د یو معتدل ښار زمینه برابروی.

**ذ کر شوو موخو ته در رسیدولپاره دقیقو معلوماتو ته اړتیا ده کوم چې تر اوسه په افغانستان کی وجود نلری.**


[3]UN-Habitat (2004) Urban-Rural Linkages: An annotated Bibliography 1994-2004. UN-Habitat; Nairobi
[4]There are also around 40 CDCs within the municipal boundary as well (over 80,000 people covered under NSP).
[5]http://afghanag.ucdavis.edu/country-info/Province-agriculture-profiles/hi-rat-herat
[6]SoAC 2015 land-use analysis found that 36% of total municipal land is used for agriculture.





## د افغانستان ۵ ښاری منطقی

اافغانستان په مجموع کی ۵ ښاری سیمی لری چی د کابل ښاری سیمه تر ټولو نه لویه ده چی ۵،۴۰۰ کیلومتره ده او کابل ښار د نورو ولایتونو سره نښلوی. او څلور نور ښاری سیمی تقریباً ۶،۵۰۰ کیلومتره ده چی د کابل د ښاری سیمی په پرتله ۲۰٪ لویوالی لری. مرکزی ښار یعنی کابل نسبت نورو ښاری سیمو ته دیر توپیر لری د مثال په توګه د مزار او کابل ښاری سیمه ( مزار ښار ۳٪ ساحه لری او د کابل ښار ۵۶٪ ) . دا پینځه ښاری منطقی تقریباً د افغانستان د ښارونو ۶۹٪ ښاری نفوس لری چی د ټول افغانستان دریمه برخه ده.


د نقشی رهنما | د ښاری منطقی سرحد | د ښاروالي سرحد | اصلی سړک | د ولایت سرحد











[9] UN-Habitat (2015) Afghanistan's Urban Future. UN-Habitat: Kabul. http://un-habitat.org/afghanistans-urban-future/

[10] UN-Habitat (2015) Understanding Urbanisation. UN-Habitat: Kabul. http://un-habitat.org/understanding-urbanisation-monitoring-urban-dynamics-in-a-fragile-and-resource-constrained-context-discussion-paper-9/

[7] GoIRA (2015) The State of Afghan Cities 2015. GoIRA: Kabul. http://unhabitat.org/books/soac2015/

[8] Office of the Deputy Prime Minster (2006) A Framework for City Regions. London, UK.

## د نورو هيوادونو څخه تجروبی

د سوکاله ښاري سيمو مثالونه په پرمخ تللو هيوادونو کی (مثال په توګه لندن او د توکيو ښاري سيمه) او مخ پرانکشاف هيوادونو کی (مثال په توګه د ممبی ښاري منطقه، هانوي ښاري منطقه، لوړ کايرو او جکارته چی د اسلامی نړۍ ترټولو غټه ښاری سيمه ده) ليدل کيږي. افغانستان ته نږدی د راولپنډۍ اسلام اباد د ښاري سيمه د پرمختيا مهم مثال دی چی دوه صنعتی ښارونه په خپلو کی تړل شوی دی.

تاريخ دا ښکاره کوی چی، کله چی د ښاري کيدو بنه په منظمه توګه مخته لاړ شی نو د وطن د انکشاف ذريعه جوړيږي. ښارونه او ښاري سيمی د ملت په اقتصاد کی مهمه برخه لوبوي، دندی مينځ ته راوړی، صنعتکاری کی اسانتيا راولي، د اجتماعي او کلتوري انکشافاتو ملاترکوی او امنيت او اسقرار زياتوي. د ښاري کيدو پروسه يوازی د کليوالو منطقو څخه د ښارونو لور ته د خلکو خوځيدل نه دي مګر دا د ښارونو فيزيکي پراختيا ده چی د ښار اطراف او ښار نه بهر وتلی اعمار شوی سيمی په ښار کی جذبوي او د وړوکو ښارونو پرمختيا او منځ ته راوړی. دا پورته ذکر شوی پروسه اکثره ښاري سيمو کی پيښيږی او ډير کم په کنترول سره مخکی ته ځي ځکه چی دا سيمی اجتماعي او اقتصادي جذبولو ظرفيت لري. د ښاري منطقو پلانګذاري او حکومتداری ښاري پرمختګ او ښاري سمسورتيا کی ډير مهم رول لري.

## ښاري سيمو څيړل

د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام چی فعلاً د کار لاندی دی، د افغانستان ۵ ښاري سيمی څيړي. دا پروګرام د افغانستان د وضيعت پروګرام په شان تکلاری نه کار اخلي چی د ښاري سيمو څخه اخيستل شوی فضايي عکسونو څخه د ځمکی د کار اخستلو معلومات راغونډي (لکه کرنيز، د اوسيدنی ځای، تجارتی ګټه اخستل) او د کورونو شمير او نفوس معلومات هم تولوی.

د دی پروګرام لاس ته راوړنه به د افغانستان د ښاري سيمو په باره کی ښاری معلومات راټولول وي چی په اينده کی به د دولت راتلونکی پروګرامونو کی مرسته کوی، د ښاري سيمو پلانونو جوړولو کی به مهم رول لوبوی او د غټو بنستيز پلان جوړونی کی به مرسته کوی. دا پروګرام به د ښاری لومړيتوب ملی پروګرام په جوړونه کی دولت سره مرسته وکړی.

> "ښاري کيدل که چرته په صحيح توګه مخکی ته لاړو نو د کليوالو ساحو ته به د خوشحالی او د اقتصادی پراختيا سبب جوړشي"
>
> دکتورکلوس، د يو ان هبيتات عمومی مشر



## راتلونکی تګلاری

- د ښاری سيمو څيړنه په سر اخيستل او نتايج ټولو ذيدخلو منابعو سره شريکول
- د کليوالو او ښاري وزارتونو تر منځ انسجامو غوره کول خصوصاً د نوو پروګرامونو په جوړښت کی (لکه د ښاری لومړيتوب ملی پروګرام، ملی پيوستون پروګرام او د خلکو د شراکت پروګرام)
- د ښاري سيمو چی کليوالو او ښاري مارکيټونو تر منځه د اړيکی زمينه برابره او اسانه شی خصوصاً د خوراکی موادو رسول او اقتصادی پرمختيا.
- د ښاری سيمو بينايی او محلي حکومتداری له غوره کولو په هکله د عامو خلکو او محلی اداراتو بوختول او د ښاري پرمختيا لپاره د ستراتژۍ او پلانونو په جوړښت کی شريکول
- د ۵ ښاري منطقو يا ښاری زونونو د غوره حکومتدارۍ لپاره د حکومتی اداراتو تر منځه ژوره همکاری پيلول. ځينی د همکاری نقطی دا کيدلی شي؛ ترانسپورتيشن او کوچيدل، د محيط ساتنه، او د پسمانده جامد بڼه کول.
- دښاروالیو تر منځه اړيکی قوی کولو په لار د ښاري منطقو امنيت غوره کول

د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام د ښاری لومړيتوب ملی پروګرام په انکشاف کی مرسته کوی چی دا به په را روانه لسيزی کی د افغانستان د ښاری لومړی تولونيو په نښه کوی برابرولو کی به د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام ۵ ښاری منطقو او ۲۰ ستراتژکي ولسوالی ښاروالی به څيړی چی اړين ارقام لاس ته راوړی او موثره پاليسي او ملی پروګرامونو په ترتيب کولو کی وړانديزونه وکړی.

© ۲۰۱۶ دغه مباحثي پاڼه يوازی د غير تجارتی موخه لپاره د ملګرو ملتونو د بشر د ميشته کيدنی پروګرام په ليکل شوی ژمنی سره امکان لری چی تکثير، انتقال او يا د بيا پيدا کيدو سيستم کی وساتل شی. کوم تعريفات، څيړنه، نتيجه ګيری او سفارشونه په دی نشريه کی د ملګرو ملتونود ميشته کيدنی پروګرام د لارښوونی شورا ، د دی پروګرام د غړو هيوادونو او يا د افغانستان، استرليا او انګلستان حکومتونو د نظرياتو ښکارندونی نه دي.